**بسم الله الرحمن الرحيم**

**ټرمپ د ايران او امريکا له پټو اړيکو پرده پورته کړه!**

**(ژباړه)**

د امريکا پخواني ولسمشر، ډونالډ ټرمپ د ايران د اوسنۍ رهبرۍ او امريکايي نظاميانو تر منځ د اړيکو له حقيقته پرده پورته کړه. ټرمپ د دواړو لوريو همغږي او د ايران هغه کړنې بيان کړې، چې د عراق د نظامي اشغال پرمهال يې د امريکا پر وړاندې د ايران عاجزي او ذلت ښوده؛ هغه ذلت او عاجزي چې د دغو دواړو هېوادونو د ډيپلوماتيکو او نظامي اړيکو له لړۍ ښکاري. ټرمپ د ۲۰۲۳م کال د نومبر په ۷مه، د سه شنبې په ورځ له دغې موضوع پرده پورته کړه او خبرې يې ځينو رسنيو را اخيستې دي. کله چې د ايران نظام د امريکا د پخواني ولسمشر، ټرمپ په اجازه د خپلې ابرو د ساتلو لپاره او هم د دغې پېښې پر وړاندې د امريکا د قوي غبرګون له وېرې ظاهري غبرګون وښود؛ نو دغه موضوع ټرمپ په داسې وخت کې بيان کړه چې د امريکا د تګزاس ايالت په هيوستن ښار کې يې د خپلو ټاکنيزو مسايلو په اړه خبرې کولې. بي بي سي د ټرمپ خبره داسې را نقل کړې ده: «موږ د ځينو رادارونو د له منځه وړلو اقدام وکړ او وروسته مو سليماني وواژه. دوی مجبور وو چې د خپلې ابرو د خوندي کولو لپاره ظاهري غبرګون وښيي، چې دا يوه طبيعي چاره ده؛ وروسته يې موږ ته پيغام را ورسېد او ويلي يې وو چې دوی به په عراق کې د امريکا پر اډه "عين الاسد" ۱۸ توغندي وتوغوي، داسې چې مستقماً به اډه نه په نښه کوي، بلکې شاوخوا سيمه به ولي.» ټرمپ ټينګار وکړ چې د ايران په دغو بريدونو کې هېڅ امريکايي سرتېري ته زيان ونه رسېد، هغه وايي: «دغه پټه مسله مې لومړي ځل د امريکا د احترام ساتلو لپاره بيان کړه.» ټرمپ ادعا وکړه چې امريکا خپل هغه مقام او احترام د "بايډن" په ولسمشرۍ کې له لاسه ورکړی، چې پخوا يې د ده په وخت کې درلود. له همدې امله ټرمپ په عام محضر کې دغه کيسه وکړه او ايران يې رسوا کړ؛ ځکه د نوموړي ټول تمرکز پر خپل ټاکنيز کمپاين او ځان او خپل حزب ته د خلکو په رابللو دی؛ ان که د خلکو د راجلبولو بيه له امريکا څخه د ايران له پيروۍ پرده پورته کول هم وي. د خپلې ابرو د ساتلو لپاره د عين الاسد اډې شاوخوا بريدونو په اړه د ايران لخوا د اجازې غوښتلو په اړه چې ټرپ څه وويل، په حقيقت کې د ايران د سياست رسوايي او د مقاومت محور په اړه د دغه هېواد دريځ و. دا کړنه په حقيقت کې له امريکا سره د ايران د شرموونکو اړيکو پايله ده او له دې مسلې ښکاري چې د ايران او امريکا تر منځ دښمني يوازې په رسنيو کې د دوکې لپاره ده او بس. همدارنګه د ايران درواغجن سياست دا ثابتوي، چې د مقاومت په محوريت کې د ايران د رهبرۍ خبره يوازې درواغ دي او غواړي چې په همدغو درواغو د ايران د سياست اصلي حقيقت پټ کړي او مقاومت د شا لخوا په خنجر ووهي. دليل يې په هغه جګړه کې د ايران نه ګډون دی، چې

یهودي ځواکونو د غزې د خلکو پر ضد په ډېر وحشت پیل کړې او دا جګړه د ایران، چې ځان د مقاومت محور رهبر ګڼي، لپاره یو طلایي فرصت دی، چې ور ودانګي او د مقاومت د ډلو مرسته وکړي، ځکه دا ډلې اوسمهال مرستې او همکارۍ ته سخته اړتیا لري، ترڅو د دې جګړې پر وړاندې خپل ثبات خوندي کړي، هغه جګړه چې هدف یې د دغو ډلو له منځه وړل دي.

ایران له مقاومت ډلې سره ژمنه کړې وه، چې که چېرې د یهودو رژیم ځمکنۍ جګړه پیل کړي، دوی به هم جګړې ته داخل شي، خو اوس وینو چې ځمکنۍ جګړه پیل شوې او د یهودو پوځ پر غزې تړانګې برید کړی او له هغې سره نښلېدونکې ټولې لارې یې تړلې دي؛ خو ایران تر اوسه همغه پخوانۍ لوبې تکراروي او یوازې په رسنیو کې شعارونه ورکوي. دوی تش د خولې ګواښ کوي، خو په عمل کې یې له غزې سره مرسته نه ده کړې. پر همدې اساس ښکاري چې د ایران په مشرۍ د مقاومت محور دروغ او تشې ادعاوې نورې افشاء شوې دي او اوس د دې وخت را رسېدلی، چې د مقاومت محور او د هرې هغې ډلې رهبري چې دغه صفتونه لري، له منځه لاړ شي. نن ورځ هغه څه چې د مقاومت محور په نامه یادېږي، پای ته رسېدلي او د غزې تر جګړې وروسته به دوام ونه کړي.

نو مقاومت د ایران لخوا د تل لپاره یوه سیاسي لوبه وه، چې دغه هېواد ګټه ترې اخیسته او په عملي برخه کې یې هېڅ مقاومت نه درلود. د دغه مقاومت رول دا دی چې د مقاومت ډلو د کنټرول له لارې د امریکا ګټې خوندي کړي؛ یعنې همدغه ډلې کنټرولوي، د هدف خلاف د هغوی مسیر بدلوي، ځواکونه یې کمزوري کوي، د کمزورۍ ټکي یې څرګندوي، په داخلي جګړو کې یې ښکېلوي او ځواکونه یې سره پاشي.

له شک پرته نن ورځ داسې ښکاري، چې د ایران مقاومت همغه ایرانۍ لوبه ده، چې یوازې تر احساساتي خبرو او شعارونو محدودېږي، چې د ایران ناوړه څېره ښه څرګنده کړي؛ مثلاً، د ایران ولسمشر، ابراهیم ریيسي په ریاض کې په عربي اسلامي کنفرانس کې له نورو ګډونوالو څخه په دغو درواغو کې ځان وړاندې کړ او ویې ویل: موږ شعار نه، بلکې عمل غواړو. که څه هم نوموړی پوهېده چې په دغه کنفرانس کې به له تشو خبرو او درواغو پرته بل څه نه وي. د بېلګې په توګه، کله چې په ملګرو ملتونو کې د ایران له استازي څخه د اکتوبر د ۷مې په اړه پوښتنه وشوه، نوموړي تر دې وروسته چې ایران له دغې پېښې سره هر ډول لاس لرل رد کړل، داسې ځواب ورکړ؛ چې که چېرې ایران د حماس پر ځای وی، هېڅکله به یې په دغې نېټه د حماس په څېر عمل نه وی کړی، همدا ایران دی او همدا یې واقعیت دی! له شک پرته د ایران نظام له سره تر پښو په درواغو، چل او دوکې چلېږي، چې غرب ته په یوه ژبه او اسلامي ډلو ته په بله ژبه غږېږي! خو د ایران د سیاست حقیقت همغه رسوایي ده، چې د امریکا پخواني ولسمشر، ټرمپ ترې پرده پورته کړه او دا مطلب پر دې ټینګار کوي چې د

ایران او امریکا تر منځ تلپاتې اړیکه ده. همدارنګه دغه مسله په ډاګه کوي، چې ایران له ظاهري او غولوونکو عملونو پرته له عربي دولتونو سره هېڅ توپیر نه لري، ځکه عربي دولتونه په ظاهر او باطن کې په ټوله معنا د امریکا او غرب پیروي کوي، خو د ایران دولت په باطن کې د امریکا پیروي کوي او په ظاهر کې بیا ځان د امریکا او غرب دښمن ګڼي.

**لیکوال: احمد خطواني**

**د الرأیه له ۴٦٩ مې ګڼې څخه اخیستل شوې**

**ژباړن: صهیب منصور**